PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لیار ښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالي څرگند دلایل دي. نو څوک چې له تاسې څخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او څوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمېر دې له نورو ورځو څخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (سورة البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که:
پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که سخن دروغ و عمل به آن را ترک نکند، پس خداوند تعالی نیازمند آن نیست که خوردنی و آشامیدنی خود را ترک کند. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۱۸ مه گڼه، پرله پسې ۱۲۹ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د زمری ۱۸ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رمضان المبارک ۲۰ مه د۲۰۱۲ م د آگست ۸ مه

سرپرست وزارت دفاع ملی از سمت خود استعفا داد

منحیث یک افغان به تصمیم (ولسی جرگه) ارج واحترام میگذارم و با توجه به تصمیم پارلمان، به عنوان مهمترین نهاد قانون گذار، وظیفه خود را بحیث وزیر دفاع، خاتمه یافته تلقی می کنم

کابل، رسانه ها:
عبدالرحیم وردک درخواست رئیس جمهور را در مورد سرپرستی از وزارت دفاع این کشور نپذیرفته است.
آقای وردک که از سال ۲۰۰۴ تا حالا وزیر دفاع افغانستان بود، اخیرا از سوی مجلس نمایندگان استیضاح و سلب اعتماد شد.
اما رئیس جمهور کرزی، یک روز پس از سلب اعتماد، آقای وردک را تا معرفی نامزد جدید برای وزارت دفاع، به عنوان سرپرست در این وزارت معرفی کرد.
آقای وردک در یک کنفرانس خبری در وزارت دفاع افغانستان، به خبرنگاران گفت که تصمیم مجلس نمایندگان در مورد سلب اعتماد خود را "بدون هیچ گونه قضاوتی "می پذیرد.
او گفت: "منحیث یک شهروند معتقد به دموکراسی، به تصمیم (مجلس نمایندگان) ارج و احترام می گذارم و با توجه به تصمیم پارلمان، به عنوان مهم ترین نهاد قانون گذار، وظیفه خود را به حیث وزیر دفاع، خاتمه یافته تلقی می کنم."
تصمیم رئیس جمهور کرزی به معرفی وزرای داخله کشور و دفاع به عنوان سرپرست در این وزارتها پس از سلب اعتماد، با اعتراض مجلس نمایندگان افغانستان نیز روبرو شده بود. ...

بقیه در صفحه ۴

دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته یو شمېر نوماندان وړاندېز شوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان ولسي جرگې د شنبې په ورځ د ملي دفاع او کورنیو چارو وزیران (د هغه څه په سبب چې جرگه وال یې د پاکستان له لوري پر افغانستان د توغندیزو بریدونو په مخنیوي کې پاتې راتگ بولي) رد صلاحیت او له قانوني پلوه بې صلاحیته اعلان کړل.
دغه دوه وزیران په داسې حال کې بې صلاحیته شول چې د کابینې پر دوو نورو وزیرانو محمد اسماعیل خان او حضرت عمر زاخیلوال د ملیونونو امریکايي ډالرو د اختلاس تورونه لیگدلي او له زاخیلوال څخه خو همدا نن تحقیقات رسماً پیل شوي دي.
که څه هم حکومت د دفاع او کورنیو چارو وزیران د سرپرستو په توگه بیرته همدې وزارتونو ته ټاکلي خو احتمالاً دې کار نه یوازې دا چې مقننه او اجراییه قوه ښکر په ښکر کړي بلکې کرزي ته یې گرانه کړې چې په روانو حساسو شرایطو کې یې درې کلیدي وزیران د بې کفایتي د تورونو له کبله یا له دندو گوښه او یا یې هم په درشل کې دي.
اوس د ارگ سرچیني وایي چې ولسمشر کرزی د دفاع، کورنیو او مالیې وزارت پوستونو ته په یو شمیر احتمالي کاندیدانو خبري کوي او په دې اړه یې له خپلو ځینو مشاورینو سره تیره شپه غونډه کړې او په دغه برخه کې کار پیل شوی دی.
د ارگ د باوري سرچینو په خوله، د کورنیو چارو وزارت لپاره په کرزي ته سپارل شوي نوم لړ کې د سولې جرگې د دارالانشاء رییس معصوم ستانکزي، د ولسي جرگې د پخواني غړي او د میوند بانک د ونډه وال هلال الدین هلال،...

پاتې ۴ مخ

هشت فرد ملکی در اثر یک انفجار در پغمان کشته شدند

کابل، رسانه ها:
به اثر انفجار ماین صبح دیروز در منطقه خالداری ولسوالی پغمان هشت تن کشته و بیش از پنج تن دیگر مجروح شدند.
این حادثه که حوالی ساعت پنج و نیم صبح دیروز در منطقه خالداری ولسوالی پغمان بوقوع پیوست، هشت تن کشته و هفته تن دیگر زخم برداشته اند.
وسیع الله میاخیل سخنگوی والی کابل به رادیوآزادی گفت، هدف این حمله واسطه اردوی ملی بود:
"هدف حمله یک کاستر مامورین اردوی ملی بود که از ساحه عبور می کرد، اما قبل از رسیدن این واسطه به ساحه این حادثه بالای یک واسطه کاستر افراد ملکی صورت می گیرد که در نتیجه به افراد ملکی تلفات وارد می شود و قربانیان این حادثه همه افراد ملکی اند."
آقای میاخیل گفت، در ارتباط به وقوع این رویداد یک باشنده ولسوالی پغمان که عامل

بقیه در صفحه ۴

جنرال جیمز تیري

د دفاع او کورنیو چارو وزارت په مشرتابه کې بدلون به د انتقال بهیر ټکنې نه کړي

کابل، رسنۍ:
ناټو او امریکایي چارواکي وایي، چې افغان ځواکونو ته د امنیتي مسؤلیتونو د انتقال بهیر به له ټاکلي پلان سره سم د ۲۰۱۴ میلادي کال تر پایه بشپړ شي.
امریکایي جنرال جیمز تیري، چې له تیرو دوو اونیو راهیسې په افغانستان کې د امنیتي مسؤلیتونو د انتقال د بهیر د څارونکي په توگه ټاکل شوې، نیویارک ټایمز ورځپاڼې ته ویلي، چې د دفاع او کورنیو چارو وزارت په مشرتابه کې بدلون به په دې بهیر کوم اغیز ونه کړي.
له بل لوري په کابل کې د ایساف ځواکونو ویاند جنرال گونټر کیټس هم د دوشنبې په ورځ یوې خبري غونډې ته وویل، چې دوي

پاتې ۴ مخ

د کابل له هوایي ډگره د بلجیمي عسکرو لومړۍ جوپه ووته

کابل، رسنۍ:
د لویدیځو رسنیو د راپور له مخې، چې تاند مانیتور کړي، له افغانستانه د بلجیمي ځواکونو لومړۍ جوپه نن د کابل له نړیوال هوایي ډگره د خپل هیواد په لور وخوځېده.
۲۴ بلجیمي پوځیان او لس لوگزامبورکي سرتېري، چې د بلجیم د گډې قطعې برخه ول او له ۲۰۰۳ څخه د کابل په نړیوال هوایي ډگر کې ځای پرځای ول، نن خپل هیواد ته روان شول.
د بلجیم رادیو تلویزیون وویل چې دا هیواد به د کابل له هوایي ډگره خپل ټول پوځیان د سږ کال د سپټمبر تر دېرشمې نېټې پورې وباسي او په دې هوایي ډگر کې به خپل ماموریت پای ته ورسوي.
اټکل کېږي چې بلجیم به د سږ کال د سپټمبر او نومبر ترمنځ له افغانستانه ۲۳۰ پوځیان وباسي او د کال تر پایه به په افغانستان کې د

پاتې ۴ مخ

مشکلات ترانزیتی و تجارتی میان افغانستان و پاکستان حل نشده است

کابل، رسانه ها:
وزیر خارجه افغانستان می گوید، پاکستان بخاطر حل مشکلات ترانزیتی تجار افغان و عملی شدن تفاهمنامه جدید بنام اپتا، همکاری نمی کند.
وزارت خارجه افغانستان می گوید، با وجود تلاش های مکرر این وزارت، پاکستان به بهانه های مختلف از برگزاری جلسه اپتیکا، مانع می شود.
داکتر زلمی رسول که به روز سه شنبه در جلسه عمومی مشرانو جرگه صحبت می کرد، گفت پاکستان به اساس تفاهمنامه اپتا عمل نمی کند.
وی گفت که به منظور حل این مشکل، حکومت افغانستان تلاش می وزرد تا جلسه اپتیکا را با مقام های پاکستانی برگزار نمایند:
"مشکلات زیاد در این موافقتنامه وجود دارد، تمام تلاش های را که انجام دادیم

بقیه در صفحه ۴

داستان کوتاه

شکار چیانیکه خود شکار شدند

تورن غلام سخی

در پهنای بیکران هندوکش پلنگانی میزیستند که بخاطر سیادت قله ها و دره های با هم افتاده پلنگ بزرگ آنها را قیادت می نمود.
پلنگان دیگری که در بیشه های دور زندگی داشتند میخواستند که در قلمرو پلنگان همرزم و همرنگ خویش زیست با همی داشته باشند، مگر پلنگان ناکاره و مغرور نمیخواستند که با همصفان خود در فضای دوستی و محبت و بخاطر توسعه قلمرو اقتدار شان و تشکل وحدت قوی پلنگان بیگناه و همنوعان خود اجازه دهند، تا همنوا و همصدا باشند،

بقیه در صفحه دوم

فساد څوک کوي او ترشا يې دچا لاسونه دي؟!

عبدالله کامه وال

فساد په چا کې دی، چېرته دی او ولې یې پر وړاندې جدي گامونه نه اخیستل کیږي علت یې څه دی او تر کومې به دوام لري؟ فاسده اداره، اداري فساد او مافیا هغه کلمات دي، چې زموږ د سیاسي او غیرې سیاسي وگړو د ناستو پاستو او بحثونو توده موضوع وي او ښه په درز کې هره ورځ له میډیا نیولې تر شخصي او سیاسي ناستو پاستو تکرارېږي، په تیرو کلونو کې به دا مسأله یواځې زموږ هغه سیاسیتونو بحث کوله چې په نظام کې یې برخه نه درلوده

پاتې دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ولس د وکیلانو د هر نیک اقدام هر کلي کوي

دا یو څرګند حقیقت دی چې د پارلمان وکیلان د افغانستان د مسلمان ولس ستازي او نمایندګان دي او دې لپاره يې غوره کړي چې د ولس، خاورې، عقیدې او نورو حقوقو دتأمین اوساتنې لپاره هروخت چمتو او تیارسی ولاړ وي، هر چېرته چې د خاورې، استقلال، زمکنی بشپړتیا، عقیده، کلتور او نورو ساحو کې څه کوتاهي او غفلت ویني په سملاسي ډول متحرک شي او په جدي ډول مخه يې ونیسي.

د تېرې شنبې په ورځ چې د ولس وکیلانو د هېواددوه ستر وزیران ښاغلې رحیم وردګ او بسم الله محمدي سلب اعتماد کړل دا دهغوی قانوني حق و او هېڅوک دهغوی پر دغه روا او قانوني حق اعتراض نه لري خو ولس له خپلو وکیلانو او نماینده ګانو څخه لدېنه هم پورته غوښتنې لري او دېته هڅوي چې د حکومت په ټولو چارو کې دشفافیت او روڼ والي د راوستو لپاره خپلې هلې ځلې ګړندي کړي څکه چې په افغانستان کې تر هغه یو غښتلي نظام او پیاوړې اداره منځته نه شي راتلې تر څو پورې چې د فساد، درغلی، مصلحت پالنې، غفلت او نورو ناوړو کړنو جرړې له بېخه نه وي ویستل شوی.

د نظام مشکل یواځې د دفاع او کورنیو چارو په وزیرانو کې نه وو چې په لېرې کولو يې حل و فصل شو، بلکې یو هر اړخیز انقلاب او شفافیت ته ضرورت لري چې د هېواد ټول لوی او واړه ارګانونه دفساد او درغلی له تباه کوونکو مکروبونو پاک او افغانستان ته یو نوی ژوند ورپه برخه کړي چې تر ډېره بریده د پارلمان وکیلان ددغه ستر انقلاب د راوستو لپاره مؤثر رول لوبولی شي، هر وکیل د خپلو زرګونو موکلینو حمایت او مرسته له ځانه سره لري او په هر نیک کار کې ورسره کلک ولاړ دي ګویا په حقیقت کې د وکیلانو زور د ولس زور دی او ولس دوی دې لپاره استولې چې د دولت د هرې برخې نظارت او څارنه وکړي هر چېرته او په هر ځای کې چې د هېواد د ګټو په خلاف کوم حرکت محسوس کړي دهغه د ختنې کولو لپاره ګړندي ګامونه پورته، او پر وخت يې مخه ډب کړي.

په پارلمان کې ټول ناست وکیلان دخپل ولس دنماینده ګانو په توګه دروند ایماني مسؤولیت لري چې دوکالت دغه ګران بار په صحیح معنی ترسره او د خپل ولس هغه توقعات او غوښتنې پوره کړي چې ترېنه لري.

په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان د مسلمان ولس له خپلو ستازو څخه تر ټولو لویه غوښتنه داده چې له هر څه دمخه قومي او ملي یووالې تأمین شي د افغانستان ټول ولس داتفاق او اتحاد په ټغر کیني خپلمنځي اختلافات چې هېڅ شرعي مجوز نه لري او یواځې د ګوتو په شمار د څو اشخاصو مادي ګټو لپاره پیدا کړي شوی دی له منځه ویوړل شي، ددغه ستر کار د ترسره کولو لپاره وکیلان له بل هر چا زیات مؤثر رول لوبولې شي که وکیلان په واقعي معنی دخپل ولس د استازیتوب مسؤولیت وپېژني او دهغوی صحیح وکالت وکړي نو له هغوی نه د ولس یوه غوښتنه دا هم ده چې د هر څه دمخه پخپله وکیل صاحبان دې د پارلمان په انګړ کې د یووالې اوهمغږی ثبوت وړاندې کړي دیو بل په خلاف دنامناسبو الفاظو د استعمال او پر یو بل د څپلیو، بوتانو او بوتلونو دویشتلو پر ځای د ورورۍ او مینې په فضأ کې خپل نظریات شریک او تبادله کړي، ګډ تصمیم ونیسي او ګډې پرېکړې وکړي.

یواځې د وکیلانو د همغږی، صمیمیت او وطن پالنې دجذبې له لارې کېدلې شي چې دهېواد ډېر مات ګوډ سیستمونه سم او له اوسنیو خطرناکو بحرانونو وباسي، وکیلان چې دقانون پر مټ دفساد کومې لوی لوی ستنې غورځولې شي ولس يې توان نه لري، کوم صلاحیت چې اساسي قانون وکیلانو ته ور کړی عامو ولسي وګړو ته يې نه دی ور کړې نو څکه په حکومتي چوکاټ کې د فساد د مخنیوې لوی مسؤولیت د وکیلانو پر غاړه دی او همدوی کولې شي چې مهار يې کړي.

د څمکنیو حقایقو په نظر کې نیولو سره د هېواد مؤثره دفاع او ساتنه په هغه صورت کې ممکن کېدلې شي چې پر یو بل دملامتي اچولو او تورنو لګولو پر ځای د بنسټیزو ستونزو دمنځه وړلو لپاره ګامونه پورته او ټول هغه لاملونه له بېخه یوړل شي چې د هېواد استقلال، امنیت او استحکام يې له خطر سره مخامخ کړی دی. له شک پرته په پوره جرئت ویلی شو چې د روانو ټولو ستونزو د له منځه وړلو لپاره ملي یووالې، یو پر بل باور، اخلاص او صمیمیت اړین دی.

کوم ولسونه چې د خپلې خاورې د سرحدونو د دفاع او ساتنې جذبه لري هغوی خپل ټوله پاملرنه ملي یووالې او قومي وحدت ته اړولې او له هر څه دمخه د خپل هېواد داخلي امنیت او استحکام تأمین کړی دی، د دښمن د مقابلې لپاره منظم پوځ روزلی او دهغوی د تجهیز لپاره پوځي وسایل او مهمات يې مهیا کړی دی.

هر څوک پوهېږي په دې نړۍ کې یو کار هم په تشو خبرو، چیغو او فریادونو نه ترسره کېږي بلکې عملي اقدام ته ضرورت لري، جنګ په ملي یووالې، مدرنو وسلو او پرمختللی ساینسي ټکنالوژۍ او د ښه اقتصاد پر مټ کېږي تر څو پورې چې افغانستان په دغو ډګرونو کې پرمختګ ونه کړي او د ملي یووالې په مزي کې ونه پیلل شي تشې نارې سورې او سیاست بازي د هېڅ درد دوا کېدای نه شي. نو په دې حساسو شرایطو کې د پارلمان د وکیلانو ستر مسؤولیت دا دی چې د هېواد د ټولو چارو ژوره څارنه او نظارت وکړي او هرچېرته او په هر ځای کې چې نقصان ویني دهغه د ترمیمولو او نقصان رسوونکو عناصرو د ختنی کولولپاره له جرئت نه ډک ګامونه پورته کړي، په دې نیک کار کې ولس د خپلو وکیلانو تر شا ولاړ دی او د بشپړ بري تر سرحده ورسره ملاتړی دی، که چېرته وکیلان د خپلو موکلینو په ملاتړ خپل وکالت په بشپړ ایمانداري او امانت داري ترسره کړي او دواړه خواوې یو بل ته د مرستې د لاسونو په غځولو د هېواد له ټولو ادارو او ارګانونو څخه د فساد د جرړو د ویستلو بیرغ اوچت کړي نو په ډېر لږ وخت کې به افغانستان د ژوند په ګڼو ډګرونو کې په زړه پورې پرمختګ وکړي او د بهرنیو د جارحیت او تیري مخه به په مؤثر ډول ونیسي.

که نه نو په تشو نارو سورو او دیوبل د ملامتولو او غورځولو له لارې نه پرمختګ شونی دی اونه هم دهېواد دسرحدونو دفاع اوساتنه، بلکې لدېنه به هم لاله بدترحالت سره مخامخ کېږي اودښمنان به له پخوانه زیات دافغانستان استقلال ګواښي.

توصیه های رمضانی

نوشته: محمد رمضان / ترجمه: عبدالخالق احسان

رمضان مثل ماه های دیگر سال نیست؛ بلکه نسیم خدایی و جرعه ایمانی است، کسی که رمضان را دریافت و آمرزیده نشد، زیان کرده و خوار شده است؛ به این خاطر بود که صحابه رضی الله عنهم این دعا را زیاد تکرار می کردند: پروردگارا ما را به رمضان برسان.

برادر گرامی! برخی توصیه های رمضانی را برای تو، خانواده ات و هر کسی که مسؤولیت آن به عهده توست؛ پیشکش می کنم؛ به ذهنت بسپار که این ها کم اند و از تلاش بیشتر خود را محروم نساز.

۱- مشغولیت زندگی را کم نما و اگر چاره نداشتی، تمام امور ضروری را در اول رمضان انجام بده و برخی امور غیر ضروری و غیر عاجل را به بعد از رمضان واگذار کن.

۲- از مظاهر راحت طلبی و خوشگذرانی و از خواب زیاد که فضایی عبادت رمضانی را فاسد می کند، دوری گزین! لذا کانال های... و... و... را نگاه نکن و روزنامه و مجله ها را زیاد مخوان.

۳- محیط خانه و محل کار را مناسب با رمضان آماده ساز! (قرآنکریم، مسواک، کتابی در مورد زهد، جریده دیواری مربوط به رمضان، ...) را تهیه کن و تصمیم بگیر که معانی قرآن را بیاموزی و خود را مطمئن ساز که که هریک از افراد خانواده «قرآن کریم» برای تلاوت دارند.

۴- کمبودی های شخصی خود را که جز خداوند متعال کسی نمی داند، مشخص نموده و راه های مداوا و رهایی از آن ها را جستجو کن و برایت بنویس! بزودی ازین صفت ناشایست خود را رهایی می دهم.

۵- صفاتی را که آرزو داری به آن آراسته بشوی، معین نموده و گامها و وسایل آراستگی به آن ها را یاد داشت کن! و بنویس: که به زودی به این صفت نیکو آراسته می شوم و ازین وسیله بهره می گیرم.

۶- به اخلاق مؤمنین خود را بیارای از قبیل: فروهشتن چشم، حفظ زبان، دوری از غیبت و سخن چینی، سپردن امانت ها به اهل آن و پرداخت قرضها. و احادیثی که درین خصوص وارد شده، حفظ نموده و الگوی نیکی برای دیگران باشید.

۷- بسیار حریص باش که پیوند خویشاوندی را استحکام ببخشی و خصومت، بغض و کینه را ترک کن؛ چون این امور دین را می تراشد و اعمال را حبطه می سازد. لذا به دیدار فلانی برو و از فلانی معذرت بخواه و فلانی را ببخش.

۸- تلاش کن بین خودت و پروردگارت سری در عبادت مشخص کنی و اعمالی را انجام دهی که ترا بخدایت نزدیک نموده و دروازه های بسته به رویت باز گردد. درین خصوص داستان آن سه مرد را به یاد آور که وارد غاری شده و دروازه غار بسته شد و آنها به فضل اعمال نیک و پنهانی خویش نجات یافتند.

۹- تلاش نما! روزانه سه جزء از قرآنکریم تلاوت کنی: یک جزء در مسجد، یک جزء در محل کار اگر ممکن بود و یک جزء درشب. و نیز حریص باش به خواندن اذکار و اورادی که از رسول الله صلی الله علیه وسلم در تمام امور زندگی روایت شده است.

۱۰- قیام شب عزت مؤمن، توشه صالحان، توانایی دعوتگران راستین و نوری از جانب پروردگار جهانیان می باشد؛ لذا قبل از صبح بیدار شده و فامیلت را بیدار نموده و باهم نماز بخوانید.

۱۱- به اعمال نیکو و برآوردن حاجت بیوه زنان، یتیمان و مساکین مشارکت کن! اما مواظب باش که از بهره گیری و استفاده شخصی از رمضان محروم نشوی.

۱۲- این که در مظهر و جوهر و تمام امور زندگی ات، گرایش دینی را نهادینه بسازی و احکام روزه، اعتکاف، تراویح و زکات را آموخته و تمام امورت را به مسجد ربط بده. لذا هفته یک باب از کتاب فقه السنة را همراه دوستانت بخوان.

۱۳- برای اعتکاف در مسجد بکوش و حد اقل شب های دهه اخیر رمضان را به صورت فردی به اعتکاف بنشین.

۱۴- ماه رمضان خاکی حاصلخیزی برای دعوت مردم و امر به معروف و نهی از منکر می باشد؛ لذا این فرصت دعوتی را از دست ندهید.

۱۵- به ادای صدقه فطر و کثرت صدقات حریص باش تا تکافل اجتماعی و کمک به برادران محتاجت را متحقق سازی، بدین منظور احادیثی که بر سخاوتمندی و کرم فرا می خواند، مطالعه کن تا از بخل و خست رهایی یابی.

۱۶- در ماه رمضان برایت شعاری بنویس و در خانه ات آویزان نما، تا خود را به آن ملزم بداری.

۱۷- یک فرصتی ایمانی را با خانواده ات سپری کن که از رمضان آغاز گردد و در طول سال ادامه یابد.

۱۸- برای شرکت در مجالس علم و هم صحبتی با نیکان بکوش؛ چون ما را بر طاعت خداوند کمک می کنند. در مشاهده تلویزیون زیاده روی نکن؛ اگر چه برنامه های هدفمندی باشد.

۱۸- برادران خود در فلسطین و سوریه و برما و ... از دعای خیر در اوقات نیک فراموش نکن؛ پس روزانه برای شان دعا نموده و امام مسجد را تذکر بده و اخبار شان را تعقیب کرده و به دیگران انتقال بده.

۱۹- آمادگی درستی به عید بگیرید و آداب خوشی و سرور را از رسول الله صلی الله علیه وسلم بیاموزید.

شکارچیانیکه خود شکار شدند

(ادامهء از صفحه اول)

... همیشه بخاطر طعمهٔ صید مانع و از هیچ نوع مکر و حیله در محیط حکمروایی شان دریغ نمی ورزیدند، با پلنگان بیگانه و نامانوس دوستانه و صمیمانه برخورد مینمودند، مگر با دوستان با نگاه دشمنانه مینگریستند و از هیچنوع فریب و توطئه دریغ نورزیده و همه قربانی های دوستان خود را که از فتوح برکت آنها به کاخ شاهی رسیده بودند فراموش نموده تا آنکه دوستان بظاهر زیبا و دل آرا و در باطن صیادان و شکارچیان کار کشته و ماهر با مهارت که در فن شکار داشتند بالآخره پلنگان خودکامه، مغرور و نادان را با ابراز نشانه های دوستی و همدلی مگر با چیدن توطئه های مخفی و ماهرانه یکی را پی دیگری از اقتدار و سیادت کنار زدند.

با این توطئه و سازش توانستند بر تمام قله ها و کرانه ها حکمروایی نمایند.

شکارچیان مغرور و از خود بی خبر خود شکار شکارچیان ماهر و صیادان ماکر شدند، با صد آه و افسوس و محرومیت صحنه را ترک گفته و از دیار پلنگان کوچیدند. این پندیست عجیب و داستانیست پرحکمت، هوشیار باشید که شکار شکارچیان ماهر و مکار نشوید.

وحدت، همدلی و با همی خود را در هر زمان و مکان حفظ نمائید و شکار حیله ها، توطئه ها و دسایس شکارچیان سیاسی نشوید. بزرگان و نیکان چه خوش گفته اند: که خود کرده را نه درد است و نه درمان!

فساد څوک کوي او ترشا يې دچا لاسونه دي؟!

عبدالله کامه وال

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

خو اوس ورسره په نظام کې ناست او په فساد کې ښکيل ښاغلي هم برخه اخلي او په ډېره سپين سترګۍ داسې غړېږي ته به وايې دا فساد ګڼې زموږ د ولس دهقانان او هغه څوک کوي چې له سهاره تر بېګا ديوې مړۍ ډوډۍ دپيدا کولو لپاره په چوکونو کې ناست وي کله ورته مزدوري پيدا شي او کله نااميده او تش لاس کورو ته ستانه شي او دا چارواکي پرې سهار او ماښام تېرېږي راتېرېږي خو زړه يې پرې هېڅ درد نه کوي او نه ورته د خپل ولس او قام برخه ښکاري، په فساد کې ښکيلو چارواکو سره اوس د افغانستان خلک څه چې، د افغانستان خاوره کاڼي او بوټي هم اشنا دي څکه دلته اکثر چارواکي په فساد کې تر ستوني ډوب دي او په فساد او غلا کې يو له بل سره په سيالۍ روان دي، د کورونو، لوړ پوړيزو ودانيو او بهر کې د بلډنګونو او تجارتونو په کولو کې سره په سياليو بوخت دي. فساد به په نوره نړۍ کې هم وي، خو دومره نه، لکه دلته چې جوېږي وهي، افغانستان کې فساد خپل اوج ته رسېدلی، او په نړۍ کې يې تر سوماليا وروسته دويم هېواد دی. موږ پر دې نه غږېږو، چې فساد څه شی دی، څنګه کېږي او فاسده اداره څه ته وايي، بلکې موږ پر دې بحث کوو، چې په افغانستان کې د فساد اصلي منبع چېرته ده او اصلاً فساد په دې هېواد کې له کومه ځايه سرچينه اخلي او څه ډول وده کوي.

که د هېواد اداري نظام او يا په بله وينا د دولتي چارواکو خبرو ته غوږ شو، نو هر څه سم دي او هېواد په ډېره چټکۍ مخ پر وړاندې روان دي او دا هر څه د خپلو کړنو لاسته راوړنه بولي او له خپلو ځانونو نه سپينې کوترې جوړوي، ته به وايې چې دوی هېڅ په فساد کې ښکېل نه دي، خو که د مسئلې ژور ته ورشو، بيا سړي پوهېږي چې دلته څه روان دي او ددې ملک راتلونکی به څه وي؟ زه نه پوهېږم چې د فساد پر وړاندې مبارزه د چا کار دی او څنګه به له منځه څي څکه افغان دولت هم وايي، چې په ادارو کې فساد روان دی او د فساد مخه بايد ونيول شي، هغه کسان چې په فساد کې ډوب او ښکېل دي هم وايي، چې فساد روان دی او بايد مخه يې ونيول شي، خو معلومه نه ده چې فساد څوک کوي او مفسد څوک دی؟

دا هغه پوښتنه ده، چې دهر لوی او واړه په خوله ده او ځوابول يې په دې هېواد کې د فساد اصلي سرچينه معلومولای شي او په دې هېواد کې د فساد جرړې او ښستونه تشيتولای شي.

خو له نېکه مرغه چې دې پوښتنې ته پخپله ولسمشر کرزي څه موده وړاندې ځواب ورکړ، چې په هېواد کې د فساد اصلي سرچينې لوړپوړي چارواکي او نړيواله ټولنه ده نوموړی څکه دا خبره کوي، چې له څو کلونو راهيسې پر دده پر حاکم ټيم باندې په هېواد کې د پراخ اداري فساد له کبله کورني او نړيوال فشارونه زيات شوي او لا هم دا فشارونه زور اخلي او په کور دننه او بهر يې دده حکومت سختې رسوايې سره مخ کړ، په همدې حال کې ولسمشر بلاخره دې ته اړ کېږي، چې نور د حقيقت ميدان ته را ودانګي او له هر څه نه پرده پورته کړي او پخپله خوله وايي، چې په هېواد کې يې د اداري فساد اصلي سرچينې لوړپوړي دولتي چارواکي او نړيواله ټولنه ده. ولسمشر تېر کاله په خپله وينا کې دا په ډاګه کړې وه او ويلي يې وو:

"په افغانستان کې ستر فساد د دولت په لوړ پوړو چارواکو کې دی، د افغانستان د سياسي چاپېريال په څرنګوالي کې دی، او ښه شکه چې موږ معلومات لرو . زموږ بهرني ملګري دې نه خپه کېږي، د دوی د مرستو او لګښتونو په چارو کې فساد زيات دی، د دې ژوندی مثال د امنيتي کمپنيو کې دې چې په سلګونه ميليونه ډالر لګوي، دغه کمپنۍ د ناامنۍ او فساد ستر لامل دي."

ښاغلي کرزي دا هم ويلي وو، چې د افغانستان پوځي او ملکي دواړه برخې پر فساد ککړې دي او په ادارو کې وزيران، رييسان او لوړپوړي چارواکي پخپل سر حکومتي کارکوونکي له دندو ګوښه کوي او پر ځای يې خپل خپلوان پر دندو ګوماري او دارنګه په پوځي ادارو کې پوځيان پخپل سر د خلکو په مېنو ورننوځي او پرته له کومو اسنادو او شواهدو هغوی رټي، ځوروي او کړاوونه ورپېښوي. نو چې داسې ده او په خپله کرزی هم دا مني، چې د ده د اداري لوړپوړي چارواکي په فساد کې لاس لري، نو ولې بيا ورته ناست دی او ولې يې په اړه اقدام نه کوي؟ !ضرور خو داده، چې ژر تر ژره يې په اړه اقدام وکړي. لومړی له ځانه شروع وکړي او خپله شاخوا اداره له دې ډول کسانو پاکه کړي او بيا نورې ادارې هم له داسې کسانو پاکې کړي او که دا کار يې پر وس پوره نه وي او دی پخپله د دې ډول کسانو ملاتړی او همغږی نه وي او دا ډول کسان د ځينو بهرنيو او کورنيو ستو او لويو واسطو واله کسان وي او دی يې له دندو نه شي ګوښه کولای، نو لږ تر لږه نومونه يې بايد رسنيو ته په ډاګه کړي، تر څو ملت هم پاک، سپېڅلي خاين او فاسد کسان وپېژني او په دې توګه د دوی د پرمختګ مخه ونيول شي او که دا کار هم نه شي کولای، نو تر ټولو غوره بيا داده، چې خپله استعفا ورکړي، څکه په راتلونکي کې قضاوت د تاريخ په واک کې دی او تاريخ هېڅ شی هم پټ نه پرېږدي، هسې نه چې بيا د ښاغلي کرزي نوم او د ده اداره د افغانستان په تاريخ کې د فاسد ولسمشر او فاسدې ادارې په نامه ثبت شي او د افغانستان د تاريخ يوه توره دوره وبلل شي.

طبیعت و اهداف دولت اسلامی

(دوکتور عبدالکریم زیدان)

دولت اسلامی عبارت از یک دولت مفکوره است که به اساس عقیده اسلامی و نظام احکام استنباط شده از آن بنا یافته باشد. بنابرین، آن یک دولت منطقوی و محدود به حدود جغرافیوی نیست و نه یک دولت تبعیضی است که منحصر به یک قوم، نژاد و یک ملت باشد، بلکه آن دولت ایدیولوژیکي و مفکوروي است، تا جائیکه عقیده اسلامی میرسد این دولت امتداد دارد.

لذا امتیازات و اعتباراتی که براساس رنگ، زبان، نژاد و منطقه استوار باشد در این دولت و طبق دساتیر آن گنجایش ندارد.

علامه اقبال شاعر انقلابی جهان اسلام در این باره می گوید:

نه افغانم و نه ترک و تاریم
چمن زادیم و از یک شاخساریم
تمیز رنگ و بو بر ما حرام است
که ما پرورده یک نوبهاریم

این است طبیعت دولت اسلامی که در امکان و صلاحیت آن است تا یک دولت جهانی گردد که تمام اقوام و نژادهای مختلف را دربر بگیرد.

و هر انسان از هر جای و از هر نژاد باشد، حق دارد که عقیده این دولت اسلامی را قبول کند و از جمله رعایا و حامل عقیده و نظام آن گردد. و اگر گرویدن به آن را قبول نکرده و از پذیرفتن عقیده آن امتناع ورزد می تواند در سایه نظام قانونی آن امرار حیات کند و از جمله رعایا و حاملین تذکره و تابعیت آن محسوب شود و بر عقیده سابق و قدیمه اش باقی بماند، بدون اینکه از طرف دولت اسلامی جزئی ترین تکلیف و مزاحمت بر وی وارد گردد.

اهداف این دولت از طبیعت آن استخراج میگردد، در صورتیکه دولت مذکور دولت مفکوروی بوده و بر شالوده اسلام بنا یافته باشد، پس طبیعی است که اهداف اول و آخرش خود اسلام است، و اهداف آن در حدود حفظ امنیت افراد، محافظت زندگی شان و ممانعت از تجاوزات محدود نیست، بلکه اهداف آن در تطبیق احکام اسلام در تمام امور و ادارات مختلف دولتی و حمل دعوت اسلامی به تمام مناطق و سرزمین های جهان امتداد پیدا میکند.

این دولت وظیفه دارد تا محیطی را اماده سازد که افراد به عبادت خدا و مطابق عقیده اسلامی و برنامه ای که اسلام وضع کرده است زندگی نموده و در تمام شئون حیاتی شان دساتیر اسلامی را تطبیق کند و همه مشکلات و موانع را که در سر راه برآوردن این اهداف واقع می شود از بین بردارند.

نه تنها این، بلکه هر نوع مفکوره، نظام اجتماعی و اقتصادی که مخالف آن قرار می گیرد محو و زایل نماید.

((الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ)) الآیه

یعنی آنانی که اگر ایشان را در روی زمین قدرت و سلطه دهیم، نماز را برپاداشته و زکات را تادیه میکنند و به کارهای نیک و پسندیده امر و از امور بد، زشت و منکر نهی می نمایند.

پس ادا کردن نماز اشاره به انجام عبادت خداوندی بوده و تادیه زکات اشاره به عبادت و کمک تعاون و همدردی نشان دادن به دیگران است.

امر به کارهای نیک و پسندیده و نهی از کارهای ناپسند، دلیل بر این است که چنان دارای قدرت تمکن و تربیه صحیح است که مطابق برنامه اسلامی زندگی نموده و تمام احکام و قوانین خداوندی در جمع شئون امور و دوایر دولتی تطبیق می نماید.

این است اهداف دولت اسلامی، و اهداف مذکور طور مجموع، بمصالح فرد و اجتماع را به کیفیت و چگونگی که خداوند آنرا مقرر داشته دربر دارد، و همیشه مراعات آن دو را به یک توازن و تعادل نگه میدارد، بنابرین دولت متکفل و ضامن مصلحت عاجل و بعدی افراد میباشد.

تجربه

دوکتور عبدالوهاب "حسام"

دوهمه برخه

(تېر پسې)

څلورمه تجربه: يو څوک را سره د دفتر ملګرې شو، په پخواني حکومت کې پاتي شوی و، د لمانځه سره يې چندان جوړه نه وه، ما ورته و ويل: لمونځ ولې نه کوی؟ هغه و ويل: خدای هسې هم غفور او رحيم دی ګناه بخښي، څه کوم چې لمونځ کوم. نو د دې مامور نه ما څو ورځي مخکې دوه زره روپۍ قرض اخستې وي، ما ورته و ويل يو پوښتنه لرم، ده و ويل: ووايه: ورته مې و ويل: ما او تا خو په دې دفتر کې يو موده تيره کړه خو تا ماته هيڅ وخت هم دوه روپۍ را نه کړې، او هغه بله ورځ دې دوه زره روپۍ راکړې ولې؟ هغه ما ته په خير شو او د لودګی ټولې نښې يې را جمع کړي، ويې ويل: ته او خدای دی دا هم څه سوال دی چې رانه کوی ! ما ورته و ويل: ما له تا نه يو سوال و کړ، او ته يې حتمي ځواب لرې، هغه خپله څوکی راتاوه کړه او ويې ويل: تا وغوښتي او ما در کړې، چې ته يې و نه غواړې زه څه مجبور يم، ليونۍ خو نه يم چې پيسې در کړم. نو ما ورته و ويل: اوس و وايه چې که ته د الله نه بخښنه و نه غواړې نو ايا ته فکر کوی چې الله به درته بخښنه و کړي؟ هغه مسکی شو او ويې ويل: هو دا خو ده.

پنځمه تجربه: په ازهر پوهنتون کې مې د اصول حديث په مضمون کې د ناسخ او منسوخ موضوع درس ور کولو د منسوخ حديث د پيژندلو يوه طريقه (دلالت الاجماع) ده، محصلين په دې اصطلاح ښه پوه نه شول ما خپل زيار و ويست چې دوی ته دا اصطلاح ښه روښانه کړم، وخت هم کم پاتې و، په دې وخت کې يوه محصله صنف ته را ننوتله، نو صنف ته مې و ويل: ګورئ (دلالة الاجماع) د پوهنتون د مقرره په څبر ده چې وايي: محصل چې ناوخته راشي استاذ بايد ورته صنف ته د داخليدو اجازه ور نه کړي، مګر تاسو و کتل چې ستاسې همصنفی ناوخته راغله صنف ته راننوته ما هم اعتراض و نه کړ، منعه مې نه کړه او تاسو هم څه و نه ويل، يعني موږ ټولو په هغه لايحه يا مقرره باندې چې پوهنتون تاکلې وه عمل و نه کړ، نو د دې معنا دا شوه چې دغه مقرره يا حکم منسوخ شوی او د منځه تللې دی، و السلام وخت ختم شو.

شپږمه تجربه: د نحو مضمون درس مې ور کولو او موضوع (فی محل رفع) (يعني د رفعي يا پيښ په ځای کې) وه، دا موضوع ځينو محصلينو په ښه شکل نه شوه درک کولای، د محصلينو د جملي څخه يو و ويل: استاذ په هر څه پوه شوم خو زما سوال دادی چې (فی محل رفع) يعني څه؟ نو د دې لپاره چې دا موضوع د دې محصل په ذهن کې ښه روښانه شي، همدغه محصل مې د چوکی نه را پاڅولو او تختې ته مې و درولو او زه خپله د محصل پر ځای کښيناستم بيا مې ورته و ويل: طالب فی محل استاذ، و استاذ في محل طالب. محصل و ويل اوس مې سر خلاص شو. بل محصل و ويل: استاذه ! (في محل رفع) پر ځای مرفوع ولې نه وايو؟ ما ورته و ويل: ګوره مرفوع هغه وخت وايو چې موږ يوه کليمه و لرو، مګر موږ دلته يوه پوره جمله لرو نو په دې خاطر مرفوع نه شو ويلی، هغه ښه پوه نه شو بيا مې ورته و ويل: ته دا يوه خولی په څو سرونو اېښودلی شي؟ هغه و ويل: په يو سر ، بيا ما ورته و ويل: چې موږ يو پيښ لرو او په يوه کليمه يې اېښودلی شو مګر دلته دوه يا درې او ياهم له دې زياتې کليمې دي نو دا يو پيښ به په کومه کليمه ږدو؟ هغه و ويل پوه شوم؟

اومه تجربه: د اصول حديث په مضمون کې مې د معلق، مرسل، منقطع او معضل حديثونو درس ورکاو، دا هر يو حديث ځانګړی تعريف لري يعني د دې حديثونو په سند کې سقط منځ ته راغلی وي، او د سقط د ځای يعني په اول د سند کې په وسط د سند کې په آخر د سند کې او يا عدد چې يو راوي ساقط شوی که دوه که درې، د دې سقط په نسبت دا حديثونه تعرفيږي، محصلين پرې ښه نه رسيدل، نو د دې لپاره چې محصلين ښه پوه شي ما محصلين په پنځو قطارونو کې داسې کښينول چې هر قطار د يو حديث د تعريف استازيتوب کولو،لومړی قطار متصل السند و چې په هغه کې مې ورته د سند اول او اخير و ښودلو او بيا مې ورته دا نور حديثونه، نو محصلينو ټولو په يو اواز و ويل اوس خبره ښه روښانه شوه او ستاسې مننه کوو. (نور بيا)

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

افغانستان اوس په متاثره کېدونکې حالت کې دی

زياتروغربي ورځپاڼو بيا هم د افغان حکومت د کابينې د ۲ وزيرانو د بې صلاحيته کيدو پر مسله تبصرې کړې.
ګارډين ورځپاڼه ليکي: ولسمشر کرزي د حکومتي چارواکو د بدلولو لپاره د ولسي جرګې د پريکړې ملاتړ وکړ.
د ولسي جرګې د دې ناڅاپي پريکړې څخه د ولسمشر تر ملاتړ وروسته افغانستان په بې سرنوشته او متاثره کيدونکې حالت کې دی.
دواړه بې صلاحيته شوي وزيران به د ولسمشر له وينا سره سم د نويو کانديدانو تر معرفي کيدو خپلو دندو ته دوام ورکوي.
د ورځپاڼې په حواله، د دفاع او کورنيو چارو په وزارتونو کې وروستي تغيرات به له نړيوالو ځواکونو څخه افغان امنيتي قواوو ته د امنيت ټينګولود مسوليت سپارلو پروسه سخته، د قدرتمندو رقيبانو له موجوديت سره د حکومت د کابينې توازن به خراب او د غربيانو لپاره د نفوذ د بايللو انديښنه به زياته کړي.
ګارډين ورځپاڼه وايي، چې غربي هېوادونو له ډيرې مودې راهيسې استدلال کړی چې افغانستان بايد د سياسي شخصيتونو پرځای خپل زير بنايي تاسيسات پياوړي کړي.
ګارډين ليکي: په دې جريان کې غربي ډپلوماتان خبرداری ورکوي چې دا دوه چارواکي له څو کلونو راهيسې د ملي اردو او ملي پوليسو د روزنې مسولين وو او د لرې کيدو سره يې ښايي افغانستان له ستونزو سره مخامخ شي.
ورځپاڼه په هلمند کې د بريتانيې د ملکي ماموريت د مسولې څرګندونې چې پر ټويټر خپرې شوې راخيستې چې وايي: د ملي دفاع او کورنيو چارو د وزيرانو بې صلاحيته کيدل به د انتقال د پروسې لپاره جدي عواقب ولري.
د ګارډين په ليکنه، ولسمشر کرزي تر اوسه د دې وزارتونو لپاره څوک جرګې ته نه دی ور معرفي کړي، نو دا دواړه کولای شي چې په مياشتو مياشتو کار وکړي.
کرسشن ساينس مانيټور ورځپاڼه ليکې، د پاکستان له خوا راکټي حملې له څه مودې راهيسې په ختيځو سيمو، په ځانګړې ډول د کونړ د خلکو لپاره دوامداره ستونزه ده.
چارواکي اټکل کوي، چې په تيرو دوو کلونو کې ښايي درې نيم زره پاکستاني راکټې او د هاوان ګولۍ يوازې کونړ ته ور ويشتل شوي وي.
په کونړ کې د امنيتي وضعيت د خرابوالي په خاطر د تلفاتو دقيق ارقام نه شي څرګنديدلای.
خو د کونړ چارواکي وايي، چې په تيرو څه باندې ۴ مياشتو کې، په دې راکټي حملو کې د ښځو او ماشومانو په شمول لږترلږه ۱۵ تنه وژل شوي او تر ۲۷ زيات زخميان شوي دي.

په کنړ کې لس هاوو کورونه د پاکستان له لوري په راکټي حملو کې ويجاړ شوي او تر ۱۰۰۰ تنه زيات بې کوره شوي.
په افغانستان کې د لوړ رتبه چارواکو قتلونه لا هم يوه جدي ستونزه ده.
کرسشن ساينس مانيټور ليکې: سره له دې چې سږ کال د تيرپه مقايسه وضعيت ښه شوی او هره اونۍ د يوه لوړ رتبه چارواکې د قتل خبر نه خپريږي خو دا لا هم يوه عمده ستونزه ده.
يوشمير چارواکې د دې ستونزې پيچلي طبعيت ته په اشاره کې وايي چې د دې وزيرانو برطرفي به زيات اغيز ونه لري.
د ولسي جرګې غړي او د پوځ يوه پخواني منصبدار نقيب الله ورځپاڼې ته ويلي: په کنړ راکټي حملې او د لوړ رتبه چارواکو پرله پسې قتلونه د هغوي د کنټرول څخه وتلې خبر او يوه سيميزه لوبه ده.
ورځپاڼه ليکې: د ولسي جرګې زيات غړي د دواړو وزيرانو لرې کيدل، د حکومت د بې کاره او فاسدو چارواکو په ضد د خپل قدرت د څرګندولو بريالی بيلګه ګڼي.

سرپرست وزارت دفاع ملی ...

اعضای مجلس نماینده گان می گویند که براساس قانون، وزیری که در جلسه استیضاح سلب اعتماد می شود، اجازه تقرر و یا سرپرستی در همان وزارت را ندارد.
دفتر رئیس جمهور کرزی گفته است که به رای مجلس نماینده گان در مورد سلب اعتماد از دو وزیر امنیتی کابینه خود احترام می گذارد، اما تا زمان معرفی وزرای پیشنهادی خود به مجلس نماینده گان، نیاز است تا این افراد بر امور وزارت های دفاع و داخله سرپرستی کنند.
مجلس نماینده گان افغانستان روز شنبه این هفته، به دلیل "افزایش نا امنی ها و ادامه حملات راکتی پاکستان " وزرای داخله و دفاع را سلب اعتماد کرد.

دفاع او کورنيو چارو وزارتونو...

د سرحدونو د وزير اسدالله خالد، د ملي امنيت شورا د مرستيال ابدالي، د جرګې د پخواني غړي سيد محمد ګلاب زوی او د کورنيو چارو د پخواني وزير علي احمد جلالي نومونه شامل دي.
ويل کيږي ولسمشر کرزي په دغو څيرو باندې کار پيل کړی او تر اوسه يې ترينه کوم يو د کورنيو چارو وزارت لپاره نه دی ټاکلی.
په همدې حال کې د ملي دفاع وزارت ته په امريکا کې د پخواني افغان سفير سيد طيب جواد، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د وزير ضرار احمد مقبل، لوی درستيز شيراقا کريمي او د ملي دفاع وزارت د پخواني مرستيال عتيق الله بريالي نومونه شامل دي.
د ارګ د سرچينې په خبره چې د ماليې وزارت لپاره په احتمالي ډول که چيرته زاخيلوال پر ويږندل شي ډ اکټر اشرف غني احمدزی، قربان حقجو او انوارالحق احدي د کانديدانو په توګه په پام کې نيول شوي دي.
همدا راز داسې هم ويل کيږي چې ولسمشر کرزی غواړي د دغو څيرو په ټاکلو کې د خپلو امريکايي او غربي ملګرو سليقې هم په پام کې ونيسي.

هشت فرد ملکی در اثر یک ...

اصلی حادثه خوانده شده همراه با ریموت کنترول از سوی مسوولین امنیتی بازداشت شده است.
اما میاخیل نگفت که شخص بازداشت شده به کدام یک از گروه های مخالفان مسلح حکومت ارتباط دارد.
از سوی دیگر جنرال امرالله قوماندان امنیه ولسوالی پغمان از محل رویداد به رادیو آزادی گفت که در این حادثه ۹ فرد ملکی کشته و پنج تن دیگر زخم برداشته اند.
قوماندان امنیه ولسوالی پغمان وضعیت زخمی ها را خوب توصیف کرد و گفت که مجروحین را به شفاخانه انتقال داده اند.
تا حال مسوولیت این حادثه را کسی و یا گروهی به عهده نگرفته است.
پغمان درغرب کابل موقعیت دارد و این ولسوالی در برخی موارد شاهد فعالیت مخالفان مسلح حکومت بوده است.

د دفاع او کورنيو چارو وزارت...

د دې بهير د پرمخ بيولو په وړاندې کومه ستونزه نه ويني.
که څه هم د ايساف وياند د کورنيو چارو او دفاع وزيرانو د سلب صلاحيت په اړه له تبصرې کولو ډډه وکړه:
"د ايساف لپاره به دا مناسبه نه وي، چې د افغانستان د پارلمان او يا هم د ولسمشر په پريکړې تبصره وکړي، دا به موږ دوي ته پريږدو، خو د انتقال د بهير په اړه بايد ووايم، چې دا بهير په سمه توګه روان دې او داډه يو، چې خپل اهداف به تر لاسه کړو.
دلته موږ کومه ستونزه نه وينو، چې و نه کولای شو، چې دا بهير په خپل ټاکلي وخت سره بشپړ نه کړو."
جنرال عبدالرحيم وردک او بسم اله محمدي د تيرې شنبې په ورځ د پاکستان د راکټي حملو په تړاو ولسي جرګې ته استيضاح شول، چې په پايله کې د دې جرګې غړو له دوي څخه د باور رايې واخيستله.
که څه هم امريکايي او ناټو چارواکو د کورنيو چارو او دفاع وزيرانو په اړه د وروستي پرمختګ په اړه له مستقيم ځواب ويلو ډډه کړې، خو د نيويارک ټايمز ورځپاڼې په وينا دا کار له کوم شک پرته د دوي لپاره غير مترقبه وو.
جنرال تيري په دې اړه د يوې پوښتنې په ځواب کې يوازې هم دومره ويلي، چې د ده اساسي مسؤليت دا دې، چې د انتقال په بهير تمرکز وکړي.
له بل لوري د ناټو د ملکي استازي وياند ډومينيک ميډلې هم په يو ډول سره د انتقال په بهير د وروستي بدلون اغيزې رد کړي دي:
"هره ورځ د حکومت په کچه، د امنيتي مسؤليتونو د انتقال کمسيون، وزيران او مرستيال يې د انتقال په بهير کار کوي، خو دا بهير له پلان سره سم په مخکې بوځي.
اوس مهال د انتقال د بهير په اړه فوق العاده ژوره پوهه، مهارت او تجربه رامنځ ته شوې ده.
د انتقال په بهير په ليزبون کې او په شيکاګو کې موافقه شوې ده او دا د افغانستان لپآره يو سمه ستراتيژی ده، خکه، چې دواړه خواوې پرې موافقه لري.
نو اوس مهال دا له پلان سره سم پرمخ روان دې او روان به وي."
په افغانستان کې د امنيتي مسؤليتونو د انتقال بهير د ليزبون د سرمشريزې د موافقې له مخې، چې د افغان حکومت لخوا يې وړانديز شوې وو دوام لري، تراوسه پورې ددې بهير دوه پړاوونه بشپړ شوي او دريم يې د پلې کيدو په حال کې دې.
افغان او ناټو ځواکونه هيله مند دي، چې ددې بهير له بشپړيدو سره به د افغانستان پنځه اويا سلنه نفوس د افغان امنيتي ځواکونو د امنيتي خدماتو تر پوښښ لاندې راشي.
که څه هم افغان او ناټو چارواکي ددې بهير بريالیتوب ته هيله مند دي، خو افغان کتونکي بيا لا هم پدې ټينګار کوي، چې افغان ځواکونه ددې مسؤليت منلو ته د اوس لپاره تيار ندي.

د کابل له هوايي ډګره د بلجيمي ...

دغه هيواد له ۶۲۶ عسکرو څخه ۳۶۰ پاتې شي.
د دې په مقابل کې به بلجيم افغانستان ته شپږ ايف شپاړس فالکن جنګي الوتکې ولېږي چې د ۲۰۱۴ کال تر پايه پاتې شي.
ويل کېږي چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې درست نړيوال ځواکونه له افغانستانه وځي خو که نا امنی دوام درلود او د دولت وسله والو مخالفانو روغې جوړې ته تن ورنه کړ د شلو او څلوېښتو زرو ترمنځ امريکايي پوځيان به په ځو اډو کې پاتې شي چې له افغان ځواکونو سره د مخالفانو پرضد په عملياتو کې مرسته وکړي.
د بلجيم دفاع وزير پيتر دي کريم مخکې ويلي و چې بلجيمي پوځيان به له ۲۰۱۴ وروسته، د دې لپاره چې د افغان امنيتي ځواکونو له جوړېدو سره مرسته وکړي، د درو يا څلورو نورو کلونو لپاره هم پاتې شي.

مشکلات ترانزیتی و تجارتی ...

پاکستان تا هنوز حاضر نشد تا جلسه سوم اپتیکا دایر شود تا بتوانیم مشکلات را با آنها در میان بگذاریم، علاوه بر این تمام ملاقات های دو جانبه و سه جانبه که داشتیم مشکلات اپتا و عدم تطبیق آنرا در میان گذاشتیم و آنها وعده سپردند که ما این مشکلات را حل می نمائیم که متاسفانه تا کنون این کار را نکرده اند."
وزیر خارجه افغانستان می گوید که از لحاظ دیپلوماتیک هر نوع تلاش را بخاطر حل مشکل ترانزیتی با پاکستان انجام دادند اند اما تا اکنون این تلاش ها نتیجه نداده است.
مقام های افغان می گویند، بخاطر گسترش روابط تجارتی میان افغانستان و پاکستان دو سال پیش موافقتنامه تجارتی و ترانزیتی میان دو کشور به امضا رسید.
در همین حال مسوولان اتاق تجارت و صنایع می گویند، پاکستان به بهانه های مختلف، مشکلات را بر سر راه تجار افغان در آن کشور ایجاد می کند.
توفیق داوری مسوول بخش پالیسی اتاق تجارت که در نشست عمومی مشرانو جرگه حضور داشت گفت که پاکستان سالانه ملیون ها دالر به عنوان جریمه از تاجر افغان اخذ می نماید:
" پول بسیار گزاف سالانه به عنوان جریمه از سوی پاکستان از تاجر افغان گرفته می شود بر علاوه اینکه آنها بهانه جوی های مختلف دارند در حال حاضر روزانه ۱۰۰ الی ۱۲۰ کانتینر اموال تاجر افغان وارد بندر کراچی می شود که حکومت پاکستان قصداً ۶۰ کانتینر را طی مراحل می نماید متباقی آن در بندر کراچی می ماند پاکستان زمینه را بخاطر اخذ جریمه از تاجر افغان مساعد می سازد."
آقای داوری همچنان گفت، با دایر شدن جلسه اپتیکا یک سلسله مشکلات تاجران افغان در بخش ترانزیت حل خواهد شد.
در همین حال انور الحق احدی وزیر تجارت و صنایع افغانستان می گوید که عملی نشدن جلسه اپتیکا دلیل سیاسی دارد.
" ما می خواهیم همرای پاکستان روابط نورمال تجارتی داشته باشیم زیرا روابط غیر نورمال تجارتی به فایده ما نیست به این اساس مشکل ما با پاکستان تنها تجارتی نیست مشکل بد سیاسی دارد مجلس اپتیکا چرا دایر نشد متاسفانه بیشتر جنبه سیاسی دارد."
مشکلات ترانزیتی و تجارتی میان افغانستان و پاکستان از چندین سال بدینسو جریان دارد.
به گفته مقام های افغان، پاکستان همواره جهت حل این مشکل به حکومت افغانستان وعده سپرده، اما این کشور تا اکنون در عمل کار های موثر را انجام نداده است.

دغه رنګ موتاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونيزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)
د اړيکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی
ديزاين: خواجه وحيدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com